آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۶/۲۴

# تــه ښـه پــوهـېرېِ طلـبگـار دېِ يمه

ځــومـره پــوروړی، ګـنهکار دې يمه
مـلامـت پــريــږده، شـرمسار دې يمه

وې غـولـوم، کــه ځــان زه تير باسمه
تــول ښه پوهيږې چې زه يار دې يمه

تــا راتــه سل ځــلې ځــواب راکـړی
نـــا اميـد نـــه يــم، انـتظار دې يمه

کـــوې انـکـار او راتـــه شـــا اړوې
زړه کې پوهيږې چې يادګار دې يمه

زه که هر څو د کبر غره ته جګ شم
تــه ښـه پــوهـيږې طـلـبګـار دې يمه

کـه هزار ځلې مې لــه ځـان وشړې
زه يــې ګـنم بــوس و کـنــار دې يمه

۲۰۱۸/۰۶/۱۱
هيدرسلبف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ